د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ۲۰۰۸/۱۲/۰۸م

# د سیمینار راپورتاژ



باچاخان د عدم تشدد ستر مبارز، هغه ملي، منطقوي اونړیوال شخصیت دی ، چې د هندوستان د خپلواکي خلانده اتل مهاتماګاندي لمسي، مشهور څیړونکی پروفیسور راج موهن ګاندي هغوی تر ټولو ټینګ مسلمان او د پښتنو د پاره د مینې او اخلاص تر ټولو لویه سرچینه بللي ده.

د ۲۰۰۸ کال د نوامبر پر ۲۸ د جرمني د هورت په ښارګوټي کي د افغانستان د کلتوري ودې ټولني له خوا د پاچاخان ، دامن او عدم تشدد سترمبارز (تر سرلیک لاندي نړیوال سیمینار جوړ شو)
په دغه سیمینار کي دنړی له ګوټ ;ګوټ څخه ، پوهانو او مینه والو برخه واخیسته او دخپلي څیړنو او خاطراتو بیان یي وکړ.
پروګرام په دې ډول وو :
الف ، علمي برخه : ۱ ــ دمقالوبرخه ، ۲ ــ د پوښتنو او ورانديزونه برخه
دمه ، خوراک او څښاک
ب ، جشني برخه : ټنګ، ټکور او ملي اتڼونه
دغوندې چلوونکي اغلي سهیلا حسرت ناظمي میلمنو او حاضرینو ته تر ښه راغلاست ویلووروسته ، ښاغلي سید هاشم هاشمي ته بلنه ورکړه ، چې سیمینار د عظیم الشان قران دپاکو ایتونو په تلاوت سره پیل کړي







ښاغلي هاشمي تر تلاوت وروسته ، داسلام دسپیڅلي دین په رڼا کي د سولي او اخوت په هکله خبرې وکړې او همدارز یي ، د باچا خان روح ته دعا وکړه.
دټولني په استازیتوب ښاغلي استاد سیدحسن ( د ټولني سرپرست مشر )، دسیمینار پرانیستونکي وینا واوروله او میلمنوته د ښه راغلاست تر څنګ د ټولني پرموخو او ددې سیمینار دجوړیدو پر اړتیا خبرې وکړې . همدا راز یي په ډاګه کړه ، چې ټولني ددې سیمینار دجوړیدو په ویاړ دشپارس کتابونو دچاپ تکل کړی و ، چې له هغې نه یي شپږ کتابه خپاره شوي او غونډې ته رارسیدلي .
استاد سیدحسن له ټولو هغو دوستانو همکارانو اومینه والو څخه هم مننه وکړه ، چې ددې سیمینار په جوړیدو کې یې مادي او معنوي مرستي کړې وې او په ځانګړي توګه یې له ښاغلی ډاکتر صاحب ایمل صافي نه مننه وکړه ، چې ددغه سیمینار دجوړیدولپاره یي پنځه سو ه ایرو مرسته کړې وه.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

استاد سید حسن وویل :
باچاخان د عدم تشدد ستر مبارز، هغه ملي، منطقوي اونړیوال شخصیت دی ، چي د هندوستان د خپلواکي ځلانده اتل مهاتماګاندي لمسي، مشهور څیړونکی پروفیسور راج موهن ګاندي هغوی تر ټولو ټینګ مسلمان او د پښتنو د پاره د میني او اخلاص تر ټولولویه سرچینه بللي ده .
همدي مشهور څیړونکي په نیویارک کي د خان عبدالغفار خان، باچاخان د سولي او روغي په نوم په یوي څیړنغونډه کي داسي وویل: ( یو شمیرکسان خو داسي فکر کوي ، چي ګونډي باچاخان ، د عدم تشدد د فلسفي الهام د مهاتما ګاندي د لاري اخیستی دی ، خو خپله باچاخان د ژوند په وروستیو کي ماته وویل، چي دوی د عدم تشدد الهام ، قران شریف څخه اخیستی دی ). دوی زیاته کړه ،چي باچاخان دا هم ویلي دی چي : ( په هیڅ یو کلام کي د صبر په توري دومره ټینګار نده شوی ، لکه په قران مجید کي چي پري شوی دی ، نو ځکه یي پري ډیره اغیزه کړي وه ) .
دیادولو وړ ده ، چي په همدي ورځ د افغانستان دکلتوري ودي ټولني له خوا په جلال اباد کي هم یو سیمینار جوړ شوی و و، چي په کي دسیمي او هېواد فرهنګیانو او یوشمیر چارواکو ګډون کړی وو .
له جرمني نه د تیلفون په لیکه له جلال اباد سره اړیکي ونیول شوی .




ښاغلي زرین انځور وویل ، چي په دې غونډه کي یوشمیر فرهنګیان لکه استاد اصف صمیم ، استاد حبیب الله رفیع ، ښاغلی باوري، ښاغلی محمد اسماعیل یون ، شاعر اولیکوال ښاغلی لیوال ، ښاغلی محبوب الله محبوب او ځینو نورو فرهنګیانو ترڅنګ د ننګرهار والي ښاغلي ګل اغا شیرزوی او همدا راز له جرمني نه د افغانستان د کلتوري ودي دټولني ځیني غړو لکه ښاغلو ډاکتر صاحب صابر،ډاکتر صاحب ماخان شینواري، ډاکتر صاحب حبیبزي او عاشق اله غریب هم ګډون درلود. ښاغلي انځور زیاته کړه ، چي ګډون والو د فخر افغان باچا خان مزار ته هم ولاړل او دده پرمزار یي د ګلو ګیډی کینوده او په دې اړوند یوه مشاعره هم جوړه شوه .
دسیمینار په لړ کي همدا راز په استرالیا کي له ښاغلي پروفیسر رسول امین سره هم تیلفوني خبرې وشوې او نوموړي ، دسیمینار برخه والو ته د باچا خان دشخصیت په هکله په لنډیز سره خبرې وکړې او له حاضرینو یي وغوښتل ، چي اوسمهال دباچا خان دعدم تشدد سیاست دعملي کولو لپاره عملي ګامونه اوچت کړي . نوموړي همدا راز وړاندیز وکړ ، چي په کابل کي دې دباچا خان په نوم یو پوهنتون هم جوړ شي.
تر هغه وروسته سیمینار علمي برخه پیل شوه، چي په دوو برخو ویشل شوی وه :
الف ، د مقالو برخه : په دې برخه کي د افغانستان څخه رابلل شوي میلمه ښاغلي سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار صاحب خپله مقاله واوروله، بختاني صاحب د باچاخان پر ژوند لیک، عدم تشدد او خدايي خدمتګارئ په اړوند خبري وکړی .
همدا رازښاغلي سر محقق عبدالله بختاني خدمتګار صاحب وویل:
د باچاخان هلي ځلي او کارونه اجتماعي او ټولنیز وو، چي خپله باچاخان هم ویلي وو، چي ( ددوی کارونه سوشل کارونه دی ). او وایي چي خدايي خدمتګاري د هغه تحریک نوم دی ، چي محرک یي باچاخان دی، چي په کال ۱۹۲۹ کي د ا شنغر، په اتمانزو کي شوی وو.
د خدايي خدمتګارانو بنسټیزه یا مرامنامه داسي وه :
۱ ــ هر خدايي خدمتګار به په خپلي ژبي او لاسونو د خدای مخلوق ته ضرر نه رسوي ،او څه چي ځان ته خوښوي ، هغه به بل ته هم خوښوي .
۲ ــ هر خدايي خدمتګار به د چا غیبت او د چا سپکه نه کوي او دروغ په نه وایي .
۳ ــ هر خدايي خدمتګار به صابر وي او د زور ، ظلم او زیاتي مقابله به ، په ښه خوی او اخلاقو کوي . په مینه او


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

محبت به تيري کوونکی د بدو کارو نه اړوي .
٤ ـ هر خدايي خدمتگار به د ظالم ملګرتيا نه کوي او د مظلوم مرسته به کوي.
٥ ـ هر خدايي خدمتگاربه پرې ، جنبي ، دښمني او تربګني نه کوي .
٦ ــ هر خدايي خدمتگار به غلط رسمونه او رواجونه ، چې قام او وطن ته ترې تاوان رسي ، پريږدي او د بدو رواجو مجادله او تبليغ به کوي .
٧ ــ هر خدايي خدمتگار به ساده ژوند اختياروي .
٨ ــ هر خدايي خدمتگار به، خپل حلال کسب، کار کوي. د تيارخورۍ او بيکارۍ ژوند به نه خوښوي.
٩ ــ هر خدايي خدمتگار به په خپل قام او وطن مين وي او په ايمانداري به يې خدمت کوي. قام او وطن به په پيسو او منصب نه خرڅوي او د قرباني نه به دريغ نه کوي .
١٠ ــ هر خدايي خدمتگار به د خپلې ډلې د اکثريت فيصلې مني او په هغې به عمل کوي .

د خدايي خدمتګار وعده ( قسم نامه ) :
زه خدايي خدمتګار، خدای (ج) حاضر او ناظر ګڼم او ورسره وعده کوم ، چې زه به خپلې ډلې سره وفادار وم او د پاس لسو مادو به عمل کوم .
تر هغه وروسته دوهم ويناوال ښاغلی پروفيسور ډاکټر فضل ربي زيرکيار چې د امريکې څخه سيمينار ته دعوت شوی وو ، خپله مقاله يي واوروله، دوی د باچاخان په هکله د بهرنيو له نظره خبرې وکړې .
ډاکټر رحمت ربی زيرکيار په زړه پورې نقل قول وکړ، او داسې يې وويل : کله چې ګاندي جې بندي کيده ، نو يو آزاد ژورناليست (( هروين )) يې د پښتونخوا ته وليږه ،تر څو د حالاتو حقيقي جاج واخلي ، هروين هم په چالاکې سره سرحد صوبې ته لاړ او د خلکو څخه يې پوښتني وکړي او د خلکو نظريات يې د باچاخان په هکله واوريدل .




ــ د يوه پښتون څخه يې د باچاخان په هکله وپوښتل او هغه ورته وويل ،چې : باچا خان يې نده خوښ ، ځکه چې باچاخان ټوپک ويشتلی نه شي يعني ټوپک نه شي چلولای .
ــ د يوه انګريز افسر څخه يې وپوښتل ، هغه باچاخان ته سپکې سپورې وکړې .
ــ او د يوې دين دارې عيسوي انګريزې ميرمنې نه وپوښتل ، هغې ورته داسې وويل چې: باچاخان حضرت عيسی دی، ځکه د هغه ټول کړه ، وړه د عيسی (ع) په شان دی .
بله په زړه پورې خبره يې داسې وکړه :
دوه نيم کاله د مخه په قاهرې کې يو نړيوال سيمينار جوړ وو ، چې هغې کې يو ايرانی عالم ، پوهاند او د تهران د پوهنتون استاد ، چې رامين جهان بګلو نوميږي،په د سيمينار کې يې هم برخه درلوده او خپله علمي مقاله يې ولوسته، او داسې يې وويل : ( مهمه خبره دا نده ،چې په څه عقيده لرو ، بلکې مهمه دا ده چې موږ د خپلې عقيدې په هکله څه کوو، چې يو مسووليت وو، چې غټو تاريخي شخصيتونو لکه : مهاتما ګاندي، مارتين لوتر کينګ او عبدالغفار خان مشهور په باچاخان ادا کړ ، اجازه راکړئ ،چې د باچاخان د ميراث په درناوي کې تيارسئ ودريږم ) .
او زياتوي : ( باچاخان اوس د خپلو خلکو په مينځ کې نشته، خو باچاخان هغه کړاوونه، چې د خپل ژوند په اوږدو کې ګاللي دی ، د الهام غټه منبع ده . باچاخان په عدم تشدد واقعيت او موثريت کلکه عقيده لرله ،چې دغه عقيده د هغه د اسلامی عقيدې د تل نه را ولاړه شوې ده . کيدای شي د باچاخان دغه ميراث مونږ ټولو سره مرستندوي شی ، چې د اسلام او غرب تر مينځ او د مسلمانانو او هندوانو تر مينځ د عدم تحمل پر ټکرونو بريالی شي . )


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

وروسته ښاغلي ډاکټر یحیی وردگ خپله مقاله واوروله ،ښاغلي ډاکټر وردک (زمونږ د باچاخان خبري)په نوم په یوه ټولګه د سیمینار په ویاړ چاپ کړی ده، چي په دې ټولګه کي د باچاخان غوره خبري سره راټولي شوي دی.

ب،د وړاندیزونو او پوښتنو برخه :په دې برخه کې د سیمینار برخه والو ونډه واخیسته او خپل نظرونه یې وړاندې کړل. لکه ښاغلي پوهنیار حضرت، ښاغلی خان محمد نظام ، ښاغلی پیښوری شینواری ، ښاغلی سعیدي صاحب .
تر هغه وروسته په سیمینار کي د هیواد یو شمیر علمي، سیاسي او فرهنګي شخصیتونو د باچاخان په هکله آزاد بحثونه او خاطري بیان کړې ،لکه : ښاغلي پوهندوی استاد عبدالرووف خپلواک،ښاغلي محمد ګل وطنپال دیاني ،مولوي شهزاده شاهد، میرمن وکیلي ، د شمشاد د تلویزیون مشر ښاغلي حاجي فضل کریم فضل .
تر هغه وروسته ښاغلي محمداجان یار دباچا خان په ویاړ یې شعر لیکلی وو ، حاضرینوته وړاندی کړ
تر یار صاحب وروسته ښاغلي مطیع الله روفي د باچا خان په ویاړ ي شعر واوراوو
د یادولو وړ ده، چي سیمینارته د نړی د بیلابیلو هیوادو څخه، د مبارکی پیغامونه رارسیدلي وو،او همدا راز د بیلابیلو هیوادو څخه د هیواد لیکوالانو ، سیاسی او فرهنګي شخصیتونو هم مقالي رالیږلي وې، چي ټولنه تری مننه کوي او د سیمینار د مقالو په ټولګه کي به چاپ شي .
تر انجینیر صاحب مطیع الله رووفي وروسته ښاغلي ځوان شاعر نسیم ستوري هم د باچاخان په اړه لیکل شوی شعر د سیمینار حاضرینو ته ولوست
تر هغه وروسته دشمشاد دتلویزیون مشر ښاغلي فضل کریم فضل هم دافغانستان او سیمي په هکله هراړخیزې خبرې وکړې او دسیمینار دستایلو ترڅنګ یې وویل ، چي باید اوسنیو ژوندیو خلکو ته هم پاملرنه وشي او هغه افغانان ، چي په خواجه بهاوالدین کي ، په هرات او هلمند کي له کړاونو سره مخ دي هیر نکړو او باید دقوم دتباهی لپاره دجوړ شوو دسیسو مخنیوی وشي .
تر هغه وروسته د ټولني لخواه یو شمیر ستاینلیکونه دغو درنو هیوادوالو ته په لاندې ډول منظور شوې وو،ورکړل شول :
د ژورنالیزم په برخه کي :
میرمن عایشه عبدالرحیمزی ، عصمت څاروان ، جان آقا الکوزی او قادر حبیب
په تخنیکي چارو کي:
عبدالولي برهاني او نسیم ستوری
هنر ، سینما او تیاتر:
میرمن ستوری منګل
د کتابونو په تالیف کي :
پوهاندډاکټرمحمد حسن کاکړ ( تاریخ )
پوهاندډاکټر خیر محمد ماموند (کیمیا)
د ژباړي په برخه کي :
ښاغلي رحمت الله آریا( د یادولو وړ ده چي ووایو،ښاغلي آریا ډیر مهم آثار ژباړلي ، چي د لیکلو شمیر یې زرګونو صفحو ته رسي ).
ځوانانو ته :
اسرار احمد کریمزی ، سبستیان هاینی( زمری) او نسیم صابر ته د پښتو ژبي ته د خدمت له کبله ستاینلیکونه ورکړل شول .
ویب پاڼو ته :
ښاغلی اجمل روهي اوښاغلی ډاکټر نیک محمد ویال ، روهي ویب پاڼه
ښاغلی خالد هادي ، بینوا ویب پاڼه
ښاغلی قیس کبیر د افغان ـ جرمن آنلاین ویب پاڼه
ښاغلی طارق بزګر دعوت، ویب پاڼه
ښاغلی عبدالله احسان ، لراوبر ویب پاڼه
ښاغلي ډاکټر صاحب ایمل صافی ته ، ټولني سره مالي مرسته اوښاغلي ډاکټر یحیي وردک ته، ټولني سره د هر اړخیزې مرستې او د باچاخان د سیمینار د جوړیدو په چارو کي نه ستړې کیدونکي هلو ځلو له کبله ورته ستاینلیکونه ورکړل شول .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

همدا راز ښاغلي محمد زرين انځور، ټولنې ته د لس کلنو نه ستړې کيدونکو او نه هيريدونکو خدمتونو او ښاغلي استاد انجينير سيد حسن ته هم د ټولنې د سر پرست مشر او ټولنې ته د ښو خدمتونو له کبله د ټولنې د مشر تابه جرګې لخواه ستاينليکونه ورکړل شول .

همدا رنګه د ټولنې د مشر تابې جرګې له خوا ښاغلي سر مقق عبدالله بختاني خدمتګار او ښاغلي پروفيسور ډاکټر رحمت ربي زيرکيار ته هم دوی د علمي خدمتونو په وياړيوه ورځ وروسته له سيمينار ه د بن په ښار کې د يوې غونډې په په ترڅ کې ستاينليکونه ورکړل شول .

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې په دې وياړلي مناسبت دغه نوي ( ٦ ) ټوکه کتابونه د چاپ
پر ګاڼه سمبال کړل او خپل ( ١٠٦ م ) نومره کتاب يې هم خپلو هيوادوالو ته وړاندې کړ:

١ـ د باچا خان ليکونه (سرمحق بختاني په زيار)
٢ ـ باچا خان په افغانستان کې ( ليکوال سيد عثمان سنجش )
٣ ـ زما ژوند ، جد او جهد ( ليکوال باچاخان )
٤ ـ د کيميا قاموس ( ليکوال پوهاندډاکټر خير محمد ماموند )
٥ ـ کلاسيک او ماليکولي جينيتيک ( ليکوال ډاکټر محمد صابر )
٦ ـ فخر افغان او افغانستان ( ليکوال سر محقق بختانی خدمتګار )

او په پای کې د سيمنيار ګډونکوونکو په ګډه سره داسي وړانديزونه وکړل :

١ ـ څرنګه چې تشدد، تشدد منځ ته راولي، موږ د ايتلافي قواوو ، کابل حکومت او مخاليفينو څخه جدي غوښتنه کوو ، چې سمدلاسه جګړه بنده او د سولې په خبرو اترو دې پيل وشي .
٢ ـ په افغانستان کې دې د باچاخان په نوم يو پوهنتون او څيړنيز مرکز جوړ شي .
٣ ـ د افغانستان په تعليمي نصاب کې دې ، د پاچاخان د ژوند او عدم تشدد نظرياتو ته ځای ورکړل شي
. ٤ ـ ٢٠١٠ م کال دې د پاچاخان په نوم ، ونومول شي ( دغه غوښتنه په هيواد کې د ويښ ځوانانو لخواه هم شوي ده ).
٥ ـ باچاخان او مهاتما ګاندي ، دې د بيلابيلو ټولنو لخواه د نوبل سولې جايزې ته کانديد شي .






ترپوې دمې وروسته جشني برخه پيل شوه ، چې خوږ ژبي سندر غاړي ښاغلي انجينيرلطيف راهي، ښاغلي صديقي او ښاغلي الياس سندرووېلو تر څنګ، مست اتنونه هم وشول . غونده دشپې په درې نيمو بجو پای ته ورسيده.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
د مشر تابه جرګه


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de